Social Sceince
AcademicJournal
ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د بيع الاستصناع پيژندنه

مفتي صديق الله همت*[1]، پوهنمل دوکتور نوراحمد اپمل[2] ، مولوي محمدطاهراغا الحقاني[3]
[1،3]اسلامي ثقافت څانگه،شريعاتو پوهنځى، هلمند پوهنتون
[2]پښتو څانگه، ښووني او روزني پوهنځى، هلمند پوهنتون
دمسؤل آيميل آدرس. muftisaduqullahhemat@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۳/۰۷/۲۸ منل سوي:۱۴۰۳/۰۸/۱٦ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت گنه: LSSAJ-1-1-18 مخونه (۲۱۹-۲۲۷)

## لنډيز

داڅېړنه د(بيع الاستصناع پيژندني) ترعنوان لاندي ترسره سوې ده. په دې څېړنه کې ټول هغه موارد په نښه سوي دي؛ چې د بيع الاستصناع سره تړاو لري. د(بيع) لغوي، اصطلاحي معناگاني داستصناع لغوي، اصطلاحي معناگاني، دا چې استصناع تړون دى که وعده ده، همدا راز د بيع الاستصناع د اثبات لپاره پکښې د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) د مبارکو اقوالو څخه اخذ سوى دى. او د عرف په اړه معلومات لکه: دعرف اثبات لغوي، اصطلاحي معناگاني او د عرف اقسام(عرف عام، عرف خاص) پکښې راټول سوي دي او د مذاهبو اختلاف د(بيع الاستصناع په روا والي او ناروا والي)کي او د ګڼ شمېر علماؤ اقوال او نظرونه را اخيستل سوي دي. د څېړني پايلي وښوده، چې بيع الاستصناع جائز(روا) خرګنلاو دى، د عرف (رواج) صحيح په خاطر او د شريعت له طرفه پکښې کوم ممانعت نسته.

**کليدي کليمې:** بيع الاستصناع، عرف، استحسان، قياس.

## سريزه

الحمدلله الذي احل البيع وحرم الربا، وهوالصانع في البروالبحرالى يوم الجزاء، والصلوة والسلام على رسوله استصنع من فضة خاتماً، وعلى آله واصحابه نجوم الاهتداء .

وبعد:

دايقيني خبره ده چي الله تعالى پرخپلومخلوقاتواساني اوراحت خوښوي په خاص ډول سره انسانان خداى جل جلاله ته زيات قدرمن مخلوق دي الله جل جلاله فرمايي( وماجعل عليكم في الدين من حرج (القران الکريم: سورة الحج (۷۸) ژباړه: اوالله تعالى ستاسولپاره په دين کي کومه سختي نده ايښې، اودنبي کريم صلى الله عليه وسلم حديث دى (ان الدين يسر. (ابوعبدالله, الصحيح البخاري:۲/۲۸۳.,۱۴۳۷ه.- ق)) ژباړه: بېشکه دين اساني ده. اوپه يوبل حديث کي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: فمَا رَأَى الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا، فَهُوَ عِنْدَ اللهِ حَسَنٌ، وَمَا رَأَوْا سَيِّئًا، فَهُوَ عِنْدَاَلله سَيِئ (حنبل, ۱۴۲۱ه.- ق) ژباړه: څه چي مسلمانان يې ښه وګڼي هغه دالله تعالى په

نزدهم ښه وي اوخه چې مسمانان يې بدګڼي هغه دالله په نزدهم بدوي. ددې مخکښينيودلائلوڅخه علمآءکرام دعرف استنباط کوي اوزموږپه دين کې داسې مسائل سته چې په هغوی کې عرف قاضي ګرځېدلی وي يوه مسئله دهغوي څخه بيع الاستصناع ده، نن صبا بيع الاستصناع دنړۍ په سطحه داسلامي ملکونولپاره يوعرف صحيح جوړسوی دی البته بياهم ددغي بيعي په جواز(رواوالي) اونه جواز(نارواوالي)کې اختلاف دی موږدلته ددغي بيع لغوي، اصطلاحي معناګاني، عرف اوټول قولونه ليکلی دي اووروسته موعمده قول بيان کړی دی چې په دې باندي دبيع الاستصناع پوره پېژندنه ترلاسه کېدلا سي.

## د څېړني ډول

دا څېړنه کتابتوني ده. ما د فقه د معتبرو کتابونو څخه پکښې اخذ کړی دی. لکه ردالمحتار د علامه ابن عابدين (رحمه الله)، فقه البيوع دمفتي محمدتقي رحمه الله اوبدائع الصنائع دعلامه علاء الدين الکاساني، مرشدالحيران د قدري باشا او نور په فقه حنفي کې با ارزښته کتابونه. د دې کتابونو په متن مې د بيع الاستصناع تعريفونه، د مذهبونو اختلاف او راجح قول ذکرکړي دي.

## تيرو آثارو ته کتنه

بيع الاستصناع د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) په دور کې را شروع سوې ده، چې هغه مبارك منبر جوړکړی بيا به يې خطبه ورباندې ويل. استصناع د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په حديث کې راغلی دی، په صحيح سند سره چې نبي پاك (عليه السلام) استصناع د ممبرکړې ده. څکه د سهل بن سعد (رضي الله عنه) حديث دی: حدثنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ: أَتَى رِجَالٌ إِلَى سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ يَسْأَلُونَهُ عَنِ المِنْبَرِ، فَقَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى فُلاَنَةَ، امْرَأَةٍ قَدْ سَمَّاهَا سَهْلٌ: «أَنْ مُرِي غُلاَمَكِ النَّجَّارَ، يَعْمَلُ لِي أَعْوَادًا، أَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ إِذَا كَلَّمْتُ النَّاسَ»، فَأَمَرَتْهُ يَعْمَلُهَا مِنْ طَرْفَاءِ الغَابَةِ، ثُمَّ جَاءَ بِهَا، فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَا، فَأَمَرَ بِهَا فَوُضِعَتْ، فَجَلَسَ (ابوعبدالله, ۱۴۳۷.هجری قمري) ترجمه: د قتيبة بن سعيد څخه روايت دی؛ چې هغه بيا روايت کوي د عبدالعزيز، هغه بيا روايت کوي د ابي حازم څخه چې ابي حازم وايي؛ خلك راغله سهل بن سعيد ته د هغه څخه يې د ممبر په هکله معلومات وغوښتل. نو سهل بن سعيد وويل چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فلانی ښځي ته او سهل بن سعيد د هغې نوم واخيستی. هغې ته يې حال ولېږی، چې خپل مريی امر کړه ( نجار) ، چې ما ته د لرګو څخه ممبر جوړ کړي. زه به پر هغه کښېنم، چې کله د خلکو سره خبري کوم. نو هغې خپل مريی ته امر وکړ، چې د طرفاء (چي دا يوځنګلي ونه ده) د وني څخه منبر جوړ کړي. هغه منبر يې جوړ

کړئ، بیا یې هغې ښځې ته تسلیم کړ. هغې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راوړی او نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) باندي کښېښستی .

او همدارازیې یوه ګوتمی چې د سپینو زرو څخه وه، جوړه کړه؛ چې بیا به یې یو ځای خط لیږی په ګوتمی به یې مُهر ور باندي لګوئ. د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زماني څخه وروسته بیا تر نن زماني د دې بیع عمل جاري دی. آن تر دې چې علمآء کرامو ګڼ تعداد مقالې او یا یې د خپلو کتابونوغټه برخه پکښې لیکلي دي او خپل د نظرونو ښکارندویې یې کړې ده.

## د څېړني اهمیت

د دې څېړني ډېر غټ اهمیت دی په نزد د علماوو. ځکه چې دا څېړنه د حلالو او حرامو تر منځ جلاوالی راولي. که چیري موږ د داسي څېړني شاهدان نه و اوسو، بیا به موغټ مسؤلیت د غاړي څخه نه یي اړولی. او پر حلال به مو خدای مکره د حرام حکم کړی وي، چې په دې کي دآخرت غټ نقصان دی او په دنیا کي د مسلمانانو اقتصاد ته لویه صدمه ده.

## موخي

۱ (د بیع الاستصناع په اړه معلومات ترلاسه کول.
۲ (د عرف په وجه باندي مسئلي تغیر قبلوي.
۳ (د بیع الاستصناع د شروع نیټه.
۴ (د قیاس او ستحسان پیژندنه.

# اول مبحث

## د بیع الاستصناع په ماهیت(حقیقت) کي

بیع الاستصناع د دوو کلمو څخه مرکبه ده اوله کلمه ده( بیع) دوهمه کلمه ده داستصناع مخکي له دې چې د استصناع بحث ته ورسو، د مطلق بیع تعریف کوو:

لفظ د بیع مأخوذ دی؛ د( باع ) څخه. د دې معنی په پښتو کي د لاس ده، نو بیع ته ځکه بیع ویل کیږي چې د دې عقد په ترسره کولو سره خرڅونکي، اخستونکي یو بل ته لاسونه اوږدوي د راکړي(عثماني, ۱۴۳۶.ه- ق)

بیع په لغت کي یې علامه الحصکفي رحمه الله تعالی په الدرالمختار کي داسي کړی: ( قَوْلُهُ: هُوَ لُغَةً مُقَابَلَةُ شَيْءٍ بِشَيْءٍ ) أَيْ عَلَى وَجْهِ الْمُبَادَلَةِ.ترجمه: بیع مقابله د یوشي ده په بل شي سره مقابله کول (یو شی په بل شي باندي بدلول) (عابدين, ۱۴۱۲. ه-ق.).

او په اصطلاح کي ویل کیږي: ( مُبَادَلَةُ شَيْءٍ مَرْغُوبٍ فِيهِ بِمِثْلِهِ) ترجمه: یوشي چې خلک رغبت پکښې کوي، په بل داغسي شي سره بدلول .

ا ستصناع په لغت کي: استصناع د استفعال وزن دی او ماده يې ( صنع ) ده، همزه او سين د پاره د طلب راځي لکه په ( استغفار) کي چي معنی يې ده طلب دمغفرت ده. او صنع په معنی سره د فعل ده. امام رازي (رحمه الله تعالی) وايي: ( الصنع )په ضمه سره مصدر دی. د دغه قول چي صنع اليه معروفاً، وصنع به صنيعاًقبيحاً، ای فعل (بکر, ۱۹۸٦ م). چي په فقه البيوع کي يې د قدري باشا په حواله داسي تعريف کړي دی: (هو طلب عمل شئٍ خاص علي وجه مخصوص مادته من الصانع) يعني دا بيع الاستصناع طلب کول دي د يوخاص شي، د جوړولو پر کيفيت مخصوصه باندي. په داسي حال کي چي مواد به يې د صانع ( جوړوونکي) له طرفه څخه يي. او يو بل تعريف يې هم په فقه البيوع کي کړي دی. او دې تعريف ته يې اصطلاحي تعريف ويلی دی. هغه په داسي ډول سره: (هوان يطلب المشتري من البايع ان يأتي له بشيئٍ مصنوع بموادمن عنده موصوف في الذمة ويلتزم البايع بذالک لقاء ثمن متفق عليه) ژباړه: دا يو بيعه ده، چي مشتري د بايع څخه طلب وکړي، د يو داسي شي چي هغه د ده له طرفه جوړ سوی وي. د ده د موادو څخه او موصوف يي په ذمة کي او بايع پر ځان لازمه کړي. دا مبيعه په وخت د ورکولو د پيسو کي هغه پيسې چي د دوی دواړو اتفاق ور باندي راغلی وي.

په رد المحتار کي يې داسي تعريف کړی دی: رد المحتار (ابن عابدين, ۱۴۱۲. ه- ق.): (باشامحمدقدري, ۱۳۰۸ ه- ق). (قَوْلُهُ هُوَ لُغَةً طَلَبُ الصَّنْعَةِ) أَيْ أَنْ يَطْلُبَ مِنْ الصَّانِعِ الْعَمَلَ فَفِي الْقَامُوسِ: الصِّنَاعَةُ: كَكِتَابَةٍ حِرْفَةُ الصَّانِعِ وَعَمَلُهُ الصَّنْعَةُ اهـ فَالصَّنْعَةُ عَمَلُ الصَّانِعِ فِي صِنَاعَتِهِ أَيْ حِرْفَتِهِ، وَأَمَّا شَرْعًا: فَهُوَ طَلَبُ الْعَمَلِ مِنْهُ فِي شَيْءٍ خَاصٍّ عَلَى وَجْهٍ مَخْصُوصٍ يُعْلَمُ مِمَّا يَأْتِي، ژباړه: استصناع په لغت کي طلب د صنعت دی، هغه په دې معنی چي مصنوع له طلب وکړي د صانع څخه د عمل د يوشي صناعت پر وزن د کتابت دی. هغه کسب ته د صانع ويل کيږي او صنعت عمل دی، د صانع لپاره د ده په کسب کي او په اصطلاح کي طلب کول دي دعمل د صانع څخه په يو خاص شي کي په مخصوصه طريباندي.

## دوهم مبحث

### په مشروعيت(روا والي) کي د بيع الاستصناع دی

په مشروعيت(روا والي) د بيع الاستصناع کي اختلاف دی په نزد د جمهورو احنافو. عقد د بيع الاستصناع جائز دی او په نزد د جمهورو شوافعو، مالکيه وو، حنابله وو او په يو قول د امام ظفر (رحمه الله) کي هم، دوی ټول په دې باندي قائل دي، چي عقد(تړون) د بيع الاستصناع نه دی جائز. مگر هغه وخت يې جائز گڼي، چي د سلم په شکل سره وسي او د هغه د شروطو مطابق وسي. علت د عدم جواز يې د دوی په نزد دا دی چي؛ دا خرخول د هغه شي دی چي د

خرڅوونکي سره نسته او دليل يې دغه حديث دي: و قد نهى رسول (الله صلى الله عليه وسلم) عن بيع ما ليس عند الانسان ورخص في السلم (الكاساني.) ژباړه: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د هغه څه د خرڅولو څخه منعه کړې ده، چې هغه د خرڅوونکي سره نه يي. نو څکه بيعه نه سوه اونه هم اجاره صحيح کېداى سي.

څکه چې صانع په خپل ملک کې عمل که يي او نه هم سلم کېدلى سي، څکه چې د سلم شروط پکښې برابر نه دي لهذا يو د يوه د عقودو مشروعه وو شرايط نه دي پکښې برابر، چې د هغه پشان دي جواز ورکولى سي، نو داسي عقد نه دى جائز.

جمهور شوافع، مالکيه او حنابله چې يې جائز نه ګڼي دليل يې قياس دى! د قياس تعريف: قياس په لغت کې عبارت دى، د تقدير (اندازې) څخه او په اصطلاح کې عبارت دى، د داسي معنى څخه چې د هغې استنباط سوى وي د دليل (نص) څخه دپاره د حکم کشوولو د هغه شي څخه چې پرهغه باندي نص (دليل) وارد دى، وهغه شي ته چې هغه منصوص عليه نه وي(دليل ور باندي نه وي راغلى (الجرجاني, ۱۴۲۷. ه- ق.) (الدکتورزيدان،, ۱۴۳۰هـ ه- ق.). لکن احناف قياس په استحسان باندي پرېږدي، د استحسان تعريف( استحسان په لغت کې : هوعدالشيئ واعتقاده حسناً، په اصطلاح کې: هو اسم لدليل من الادلة الاربعَة يعارض القياس الجلي ويعمل به اذاکان اقوى منه) (العلاء, ۱۴۳۱. ه- ق.) (الدکتورزيدان،, ۱۴۳۰هـ-ق.). څکه په مقدمه د ردالمحتارکي راځي، چې کله د استحسان او قياس ټکر سره راسي، نو استحسان ترجيح لري پرقياس باندي، وکذا لوکان احدهما استحساناًوالآخرقياساً، لان الاصل تقديم الاستحسان الافيمااستثنى کماقدمناه (عابدين, ۱۴۱۲. ه-ق.). اوبل علت د جواز يې تعامل،عرف دى د تعامل په وجه باندي چې نن صبا پر بيع الاستصناع باندي عرف راغلى دى. نو دا بيع جائزده. په وروسته کې به يې مکمل بحث راسي ان شاءالله.

**بيع الاستصناع د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په زمانه کي**

استصناع د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) ثابته ده، په حديث کې راغلي دي په صحيح سند سره چې نبي پاک (عليه السلام) استصناع د ممبرکړې ده. څکه دسهل بن سعد (رضي الله عنه) حديث دى: حدثنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيد، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيز، عَنْ أَبِي حَازِم، قَالَ: أَتَى رِجَالٌ إِلَى سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ يَسْأَلُونَهُ عَنِ المِنْبَرِ، فَقَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى فُلاَنَةَ، امْرَأَةٍ قَدْ سَمَّاهَا سَهْلٌ: «أَنْ مُرِي غُلاَمَكِ النَّجَّارَ، يَعْمَلُ لِي أَعْوَادًا، أَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ إِذَا كَلَّمْتُ النَّاسَ»، فَأَمَرَتْهُ يَعْمَلُهَا مِنْ طَرْفَاءِ الغَابَةِ، ثُمَّ جَاءَ بِهَا، فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَا، فَأَمَرَ بِهَا فَوُضِعَتْ، فَجَلَسَ عَلَيْهِ. (ابوعبدالله, ۱۴۳۷.ه- ق)ترجمه: د قتيبة بن سعيد څخه روايت دى چي؛ هغه بيا روايت کوي

د عبدالعزیز، هغه بیا روایت کوي د ابي حازم څخه چي ابي حازم وايي خلك راغلل سهل بن سعید ته د هغه څخه یې د ممبر په هکله معلومات وغوښتل، نوسهل بن سعید وویل چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فلانۍ ښځي ته اوسهل بن سعید د هغې نوم واخیستی هغې ته یې حال ولېږی، چي خپل مریی امر کړه (نجار) چي ما ته د لرگو څخه ممبر جوړ کړي. زه به پر هغه کښېنم، چي کله د خلکو سره خبري کوم. نو هغې خپل مریي ته امر وکړ چي د طرفاء (چي دا یوځنگلي ونه ده) د وني څخه منبر جوړکړي. هغه منبر جوړکړ. بیا یې هغې ښځي ته تسلیم کړ. هغې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راوړئ. او نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) باندي کښېنستی.
په بل حدیث کي راځي، چي حضور (صلي الله علیه وسلم) دگوتمۍ استصناع هم کړې ده: عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: لَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الرُّومِ، قِيلَ لَهُ: إِنَّهُمْ لاَ يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَخْتُومًا، «فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ، فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ، وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ الله (ابوعبدالله, ۱۴۳۷ه- ق). ژباړه: قتادة وايي چي؛ ما د انس (رضي الله عنه) څخه وا وربدل چي هغه وویل: کله چي نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) اراده وکړه چي خط ولېږي و روم ته. نو ورته وویل سوه چي دوی داسي خط نه وايي کوم چي مُهر (ټاپه) سوی نه وي. نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سپینو زرو گوتمۍ جوړه کړه، گواکي زه اوس گورم هغه سپینوالي ته د رسول الله په لاس کي او په هغه کي لیکلي وه (محمدرسول الله).
نو د دې دواړو حدیثونو څخه دا خبره معلومیږي، چي نبي پاك (صلی الله علیه وسلم) گوتمۍ په خپله نه ده جوړه کړې، بلکي استصناع (غوښنته د جوړښت) د ممبر، گوتمۍ یې د بل څخه کړې ده لهذا بیع الاستصناع په احادیثو باندي هم ثابته ده.

**د بیع الاستصناع حیثیت په عرف کي**

عرف په لغت کي: کل ما تعرفه النفس من الخیر وتطمئن إلیه، ژباړه: عرف په لغت کي وهر هغه شي ته ویل کیږي، چي نفس یې پېژني، چي دا خیر دی او ور باندي ډاډه کیږي.
په اصطلاح کي: ما استقرت النفوس علیه بشهادة العقول، وتلقته الطبائع بالقبول ژباړه: هر هغه څه چي زړونو اخیستي وي، په قبول سره د عقلونو په گواهۍ باندي او طبیعتونو په خوښۍ سره منلی وي. (المؤلفین.,. ۱۴۰۴- ۱۴۲۷هـ. ق) (الجرجاني, ۱۴۲۷. ه- ق).
عرف پر دوه قسمه دی: عرف عام، عرف خاص. عرف عام: هغه عمل ته ویل کیږي، چي پر هغه باندي د عامو اسلامي ملکونو خلکوعمل کړی وي. که په پخوا زمانه کي وي او که په اوس (نوې) زمانه کي وي. دعرف عام مثال: لکه: د بیع الاستصناع عقد.

عرف خاص: وهغه عمل ته ویل کیږي، چي پر هغه عمل باندي د ټولو اسلامي ملکونوعمل نه وي، بلکي د یوه ملك خلکو او یا د یوه کار خلکو. لکه: (قصابان، دوکانداران، او یا نورو مسلکونو والا) عرف (رواج) ګرځولی وي. مثال یې لکه د پرشونو، قالینونو ودل په دریم تار باندي چي دا دب لخ دخلکوعرف وو (الدکتورزیدان، ۱۴۳۰هـ ق.) (الدکتورمحمدالحرازي، ۲۰۲۰).

درسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زماني څخه د استصناع تعامل را روان دی، تر اوسه. په هره زمانه کي علمآء کرامو منکر کار ونه باله او نه یې هم تابعینو رد وکړ اونه یې په هر عصر کي علمآوو رد وکړ؛ نو داسي تعامل او عرف عام بلل کیږي. او په داسي عرف باندي اثر(نص) ته تخصیص وروستلای سو او هم قیاس ور باندي پرېښودل کیږي.

په فقه البیوع کي علامة محمدتقي العثماني (حفظه الله تعالی) د امام برهان الدین (رحمه الله) قول را نقل کړی دی، چي علامه امام برهان الدین (رحمه الله) وایي: وجوزناه بتعامل الناس فان الناس یعاملون الاستصناع في هذه الاشیاءمن لدن رسول الله صلي الله علیه وسلم الي یومناهذامن غیرنکیر وردمن الصحابة رضي الله عنهم ولامن التابعین وتعامل الناس من غیرنکیروردمن علمآء کل عصرحجة یترک بهاالقیاس ویخص بهاالاثرالاتري ان دخول الحمام بالاجرجائزاستحساناً لتعامل الناس من غیرنکیرمن علماء کل عصروان کان القیاس یأباه لان مدة مایمکث في الحمام وقدرمایستعمل من الماءمجهول. ژباړه: امام برهان الدین وایي، موږ روا والی ورکوو، بیع الاستصناع ته په سبب د تعامل د خلکو. بېشکه خلق د استصناع عمل کوي، په دې شیانو کي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زماني څخه بیا زموږ تر دغي زماني پوري. خو چا(نه صحابه وو، نه تابعینو او نه د هري زماني علمآوو) بده وبلل. نو دا داسي دلیل دی، چي په دې باندي قیاس پرېښودل کیږي او حدیث ور باندي خاصیږي. آیا ته نه ګورې؛ چي حمام ته خلك ځي البته مده د لمبېدلو یې نه وي معلومه او نه یې اوبه معلومي وي، خو عرف (رواج) ورباندي راغلی دی او مزدوري ور باندي اخیستل روا ده استحساناً.

**بیع الاستنصاع معاقدة(یو د بله سره تړون) دی او که مواعدة(یو د بله سره وعده د تړون) ده؟**

مخکي بیان سوي دوه حدیثونه که څه هم صراحت پر دې خبره دلیل نه دی، چي دا مواعده(یو د بله سره وعده د تړون) ده او که معاقده (یو د بله سره تړون) دی. البته د تعامل (رواج) څخه دا خبره ظاهریږي، چي دا معاقده (یو د بله سره د تړون) دی. مواعده (یو د بله سره وعده د تړون) نه ده، ځکه پر طریقه د عقد(تړون) سره کیږي او صحیح خبره په مذهب حنفي کي دا ده چي دا بیع الاستصناع عقد دی مواعده محضة نه ده، ځکه چي امام محمد (رحمه الله) په دې کي

قیاس او استحسان ذکر کړی دی او دا دواړه په مواعده کې نه جاري کیږي او ده جواز ورکړی دی، په هغه شیانو کې چې تعامل (رواج) پکښې یې نه په هغه شیانو کې چې تعامل (رواج) نه یې پکښې، نودا دلیل دی، د دې خبرې چې دا مواعده نه ده که وای، نو په ټولو شیانو کې به یې جواز ورکړی وای .

## پایله

خلاصه دا ده چې بیع الاسصناع جائز ده، د عرف په وجه باندي. ځکه چې دا عرف عام دی او په دغه عرف باندي حدیث ته تخصیص وروستل کیږي ترآخره فرده(تر څو چې یو فرد د حدیث د تطبیق لپاره وي) او په عرف عام باندي قیاس پرېښودل کیږي، په بدائع الصنائع کې یې لیکلي دي: وامامعناه فقداختلف المشایخ فیه قال بعضهم هومواعدة ولیس بیع وقال بعضهم وهوبیع لکن للمشتري فیه خیاروهوالصحیح بدلیل ان محمداً رحمه الله ذکرفي جوازه القیاس والاستحسان وذالک لایکون في العدات وکذااثبت فیه خیارالرؤیة وانه یختص بالبیاعات... (الکاساني.) ژباړه: او معنی د بیع الاستصناع په تحقیق سره په دې کې مشایخو اختلاف کړی دی. بعضوعلمآوو ویلي دي چې دا صرف وعده ده، د بیعي عقد(تړون) نه دی او ځینو نوروعلمآوو بیا ویلي دا عقد(تړون) دی. البته رانیوونکي ته اختیار سته او دا صحیح خبره ده، یعني دا خبره صحیح ده چې دا بیع ده (دوهوالصحیح لفظ د ترجیحاتوڅخه دی) په دې دلیل سره چې امام محمد (رحمه الله تعالی) ور پکښې قیاس اواستحسان ذکر کړی دی او دا په وعدو کې نه ذکر کیږي. بلکې په عقدونو(تړنونو) کې ذکر کیږي. همدا رازهغه په دې کې خیارالرؤیت(د لیدلواختیار) ثابت کړی دی، چې دا هم په بیعو پوري خاص دی. د دې څخه دا معلومیږي، چې دا د بیعي تړون دی. همدا رازپه الفقه الحنفي في ثوبه الجدید کې هم راغلي دي: والاصح انه معاقدة فانه اجری فیه القیاس والاستحسان والمواعیدتجوزقیاساً واستحساناً (عبدالحمیدمحمودطهماز.).. ژباړه: اوښه صحیح خبره داده چې دا بیع الاستصناع عقد دی. ځکه چې په دې کې قیاس او استحان چلېدلی دی او د وعدو په روا والي کې قیاس او استحسان یوشان دی. لهذا د دغه ترجیحاتو په وجه باندي بیع الاستصناع عقد(تړون) دی او وعده نه ده.

## اخځلیکونه

1. الکتاب: الموسوعة الفقهیة الکویتیة: ۵۳/۳۰.(n.d.) .
2. ابوعبدالله, م. ا. (۱۴۳۷.هجری قمري). الصحیح البخاري:۲/۲۸۳. عطاءات العلم.

3. الجرجاني, م.ع. (۱۴۲۷. هجري قمري.). کتاب التعریفات:ص (۱۳۷). کابل افغانستان.: المکتبة الاعزازیة.
4. الدکتورزیدان.. (۱۴۳۰هـ هجري قمري.). الوجیزفي اصول الفقه:ص(۱۸۱. پاکستان.: مکتبة الصدیقیه.
5. الدکتورمحمدالحرازي. (۲۰۲۰). العرف واثره في الفقه الاسلامي:۳۲---۳۰. کلیة الشریعة والقانون المجلة العلمیة.
6. العلاء, ا.ا. (۱۴۳۱. هجري قمري.). التاتارخانیه: ۹/۴۰۰. پاکستان.: انوري کتب خانه.
7. القران الکریم: سورة الحج (۷۸. (نیټه نشته.(
8. الکاساني,ع. ب. (نیټه نشته). بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع:۹۳/۴. ارګ بازارکندهار: المکتبة الحبیبیة.
9. المؤلفین.,م. م. (1404 - 1427 هـجري قمري.). الموسوعة الفقهیة الکویتیة: ۳/۵۳. کویټ.: وزارة الأوقاف
10. والشئون الإسلامیة.
11. باشامحمدقدري. (۱۳۰۸ هجري قمري). مرشدالحیران. بولاق: المکتبة الکبری الأمیریة.
12. بکر, ا. م. (۱۹۸٦ م). مختارالصحاح:ص(۱۵۵). لبنان ریاض الصلح: مکتة لبنان.
13. حنبل,ا. أ. (۱۴۲۱هجري قمري). مسنداحمد. مؤسسة الرسالة.
14. عابدین, م. ا. (۱۴۱۲. هجري قمري.). ردالمحتار: ۵۰/۱. پاکستان.: مکتبة رشیدیة.
15. عبدالحمیدمحمودطهماز. (n.d.). الفقه الحنفي في ثوبه الجدید:۴/۳۰۳. کابل افغانستان.: المکتبة الطارق.
16. عثماني, م. (۱۴۳٦.هجري قمري). فقه البیوع: ۱/ ۲۳. کراچي: معارف القران.

# Introduction to Bay’ al-Istisna

Mufti. Sadiqullah Hemat*[1] , Ph.D. Noor ahmad Emal [2], Molvee. Mohmmad Tahir[3] Agha Hqani [3]
[1,3]Islamic Culture Department, Faculty of Sharia, Helmand University
[2]Department of Pashto Language and literature, Education Faculty, Helmand University
**Email:** muftisadiqullahhemat@gmail.com

## Abstract

This article delves into the concept of Bay’ al-Istisna (Manufacturing Sale) by examining its linguistic and technical definitions, legal standing, and its acceptance within Islamic jurisprudence. The research highlights key aspects related to this unique mode of sale and aims to clarify its application in light of Islamic principles and customary practices (‘urf).
At the core of the study lies the exploration of the terms Bay’ and Istisna. Bay’, which signifies "sale," is analyzed both linguistically and terminologically to establish its foundational meaning. Similarly, Istisna, meaning "manufacturing upon order," is examined in detail to determine whether it constitutes a binding contract or simply a promise. To substantiate the permissibility of Bay’ al-Istisna, evidence is drawn from the sayings of the Prophet Muhammad (peace be upon him), ensuring the discussion aligns with established Islamic traditions.
A significant part of the research is dedicated to understanding the role of ‘urf (custom) in validating Bay’ al-Istisna. The linguistic and technical definitions of ‘urf are explained, along with its classifications into general (‘urf ‘aam) and specific (‘urf khaas). The study underscores the importance of ‘urf in Islamic law, particularly its influence on the recognition and acceptance of practices like Bay’ al-Istisna.
Furthermore, the article addresses the differences of opinion among Islamic schools of thought regarding the permissibility of Bay’ al-Istisna. The research brings to light the diverse views of scholars and jurists, providing a comprehensive overview of the debate. Despite these differences, the findings reveal a consensus that Bay’ al-Istisna is a legitimate and permissible form of sale under Islamic law. This

permissibility is rooted in the recognition of valid customary practices and the absence of any explicit prohibitions in the Shari'ah.

**Keywords:** Bay' al-Istisna, 'Urf (custom), Istihsan (juridical preference), Qiyas (analogical reasoning).

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**